انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۶/۰۶/۰۵

دګلونو کابل

زما یادیږی د ښکلا او د ګلونو کابل
په زړه می اوري د خورو ورو ولسونو کابل

کابل د مینې پیرزوییني د احسان نښه ده کابل د پت نیغه شمله د لوی افغان نښه ده
کابل زما د پرونـــي ښایسته جانان نښه ده کابل د ځمکی په لوی مخ د لوی ایمان نښه ده
د سوچه مینی په نوم جوړ دی د رنګونو کابل
په زړه می اوري د خورو ورو ولسونو کابل

ما د کابل هره کوڅه کی ده لـیـدلـی مینه ما د جانان ســره کابل کی ډیره کړی مینه
ما په ګلونو د کابل ده تخـنولي مـــیـنـــه ما په اوبو د کابل جان ده لمبولـــی مـــیـنـــه
نه می هیریږی هاغه جوړ له دنګو غرونو کابل
په زړه مـی اوري د ښــکلا او د ګلـونو کابل

زما کابل وو ، د ښارونو افتخار کابل یا د نړۍ د ښکلا ناوی نو بهـار کابل
یا د زرلښـتو او زرڅانـــګو زرنګار کابل یا د نرګسو او غاټولو لاله زار کابل
چا په نظرکړو د خوبانو د نذرونو کابل
په زړه می اوری د ښکلا او د ګلونو کابل

کابل د مینې د وفا او د جمال ښـار وو کابل د پیغلو او زلمیوو د وصال ښـار وو
کابل د مینې زنګیدلو ته د ټال ښـار وو کابل د ټولو مستو مستو د زلال ښـار وو
له چا به هیر شي د خندا او د خوندونو کابل
ډیر می یادیږی هاغه ښـکلی د ګلونو کابل

کابل رڼا وه د رڼا د خورلو ښـار وو د غرو سرونو ته د نور د رسولو ښار وو
په شنو درو کی د شبنم د ورولو ښار وو بی روحه ډبنټو ته د سا د ورکولو ښار وو
څنګه تیاره شو د رڼا او د نورونو کابل
په زړه می اوری د ښکلا او د ګلونو کابل

د عبادت ښار وو کابل د مناجات ښار وو د شوګیرو د رازو نیاز د خرابات ښار وو
د جرګو ښار د مرکو ښار د مسلات ښـار وو د نذرانو د ثوابونو د خیرات ښـار وو
د جنګ د اور په لمبو وسوو د ویاړونو کابل
ډیر می یادیږی د ښکلا او د د ګلونو کابل

لکه یو لعل به ځلیده د غرو د کانو منځ کی لکه غاټول به ښکاریدلو د ممانو منځ کی
یا لکه ستورئ چی ښکاریږی د شنو پانو منځ کی یالکه سپین باز چی شی ګډ د تورو زانو منځ کی
هسي کابل وو د فکرونو د خیالونو کابل
وران شو ویجاړ شو د بریو د برمونو کابل

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

څو **ساده ګانو** د کابل په ګلو اور ولګاو څو **بې خبرو** یې په شنو کوترو شور و لګاو
څو **زورورو** یې په ستوني باندی زور و لګاو څو **ګناه ګارو** د ګناه ور باندی تور و لګاو
له سندریز کابل شو جوړ د فریادونو کابل
تباه تباه شو د ویاړونو او برمونو کابل

د نغمو ښار د سوو ساندو او سلګو ښار شو د غونچو ښار په اور کې وسوو د لمبو ښار شو
هاغه د سپینو شیدو ښار د شنو لوګو ښار شو آ د ښایست د تصویرو ښار د زخمو ښار شو
جوړه له درد یوه کیسه شوه د دردونو کابل
ډیر می یادیږی د ښکلا او د ګلونو کابل

د سترو زړونو د دمې ښار په ستړیا بدل شو د خندا ګانو د خوښیو ښار په ژړا بدل شو
آ د خمار او د نشې ښار په غوغا بدل شو هغه د زړونو د کعبې ښار په صحرا بدل شو
جوړ هدیره شو د آواز او د سازونو کابل
تباه تباه شو د ویاړونو او برمونو کابل

لا توره شپه ده په کابل رڼا راغلې نه ده په سپیرو شونډو یې د ژوند مسکا راغلې نه ده
لا جوړیدو ته یې زمونږ سلاء راغلې نه ده لا د وفا کلي ته بیا وفا راغلې نه ده
وړو وړوکي کړو د لویو تاریخونو کابل
نه می هیریږی د ښکلا او د ګلونو کابل

بیا ورټول شویدی کابل ته د نړۍ لیوان توردي که سپین دي سره دي دیو کړۍ لیوان
د ولس له غوښو جوړوی ځانته مړۍ لیوان وینو کی ډوب زما د ولس دي تر غړۍ لیوان
خاونده بچ کړي د شملو او د پړونو کابل
د لوی ملت د لوی تاریخ او د ویاړونو کابل

اګست/۲۰۰۶/۱۸

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ